# افغانستان آزاد ـ آزاد افغانستان

**AA-AA**

*چو کشور نباشد تن من مبـــــاد　　بدین بوم و بر زنده یک تن مــباد*
*همه سر به سر تن به کشتن دهیم　　از آن به که کشور به دشمن دهیم*

www.afgazad.com　　afgazad@gmail.com

| سیاسی | Political |
|---|---|


فرستنده: سازمان انقلابی افغانستان

۲۸ اکتوبر ۲۰۱۱

# ساده سوسیالیستي حقیقتونه*

پُل لافارګ

ژباړه: د افغانستان انقلابي سازمان



**پُل لافارګ، سوسیالیست فرانسوي لیکوال او سیاسي فعال، د فرانسې د کارګرانو ګوند له بنسټ ایښودونکو او د پاریس د کمون غړی او همدا ډول د لورا مارکس، د کارل مارکس د دویمې لور، د ژوند ملګری و. هغه په ۱۸۱۴ کال کې په کوبا کې نړۍ ته راغی او په ۱۹۱۱ کې له نړۍ سترګې پټې کړې.**

**کارګر:** که ارباب نه وي، نو څوك به ما ته کار راکړي؟

**سوسیالیست:** دا هغه پوښتنه ده چي په کراتو له ما پوښتل کیږي؛ پریږده چي لږ یې وسپړم. د دې لپاره چي يو کار تر سره شي، درې شیانو ته اړتیا ده: کارخانه، ماشین آلات او اومه مواد.

**کارګر:** سمه ده.

**سوسیالیست:** دا څوك دي چي کارخانه ودانوي؟

**کارګر:** بنایان.

**سوسیالیست:** دا څوك دي چي ماشین آلات جوړوي؟

**کارګر:** انجنیران.

**سوسیالیست:** چا هغه مالوچ چي تاسو ترې تار جوړوئ، وکرل؟ چا هغه وړی چي ستاسو میرمن ترې ټوکر اوبدي راټولي کړئ؟ او چا هغه معدني فلزات چي ستاسو زوي یې پر سندان وهي، وکیندل؟

**کارګر:** دهقانانو، چوپانانو، معدنچیانو، او زما په شان کارګرانو.

**سوسیالیست:** نو تا، ستا میرمن او زوي یوازې هغه وخت کار کولای شي، چي يو شمیر نور کارګران نقداً تاسو ته ودانۍ، ماشین آلات او اومه مواد عرضه کړي.

**کارګر:** هو، همدا شان ده؛ زه بې له مالوچو او د اوبدني له ماشین پرته، نشم کولای ټوکر ووبدم.

**سوسیالیست:** ښه نو، نو دا پانګوال یا ارباب نه دی چي تاسو ته کار درکوي، بلکي، بنا، انجنیر او دهقان دی. آیا تاسو پوهیږئ چي ستاسو ارباب څنګه ټول هغه شیان چي تاسو ورته په خپل کار کي اړتیا لرئ، چمتو کړي دي؟

**کارګر:** ارباب هغه پیریدلي دي.

**سوسیالیست:** خو دا پیسي چا هغه ته ورکړي دي؟

**کارګر:** زه څه پوهیږم، له پلار څخه یوه اندازه پیسي ورته په میراث رسیدلي او اوس ترې میلیونر جوړ شوی.

**سوسیالیست:** آیا هغه دا میلیونونه روپۍ د خپلو ماشین آلاتو سره د کار او د مالوچو څخه د ټوکر د تولید څخه لاس ته راوړي دي؟

**کارګر:** نه، ډیر کم امکان لري. زموږ د ګمارلو له طریق نه یې میلیونونه روپۍ لاس ته راوړي دي.

**سوسیالیست:** نو د مفتخورۍ له طریقه یې دا پیسي پیدا کړي دي؛ هو، دا د شتمنیدو یوازینۍ لاره ده. هغه څوك چي کار کوي، یوازې دومره عاید تر لاسه کوي چي یله ورسره ژوندی پاتي کیږي.

خو راته ووایه، که تا او ستا د کار، ملو کارګرانو کار نه کولی، آیا د ارباب ماشینونه مو زنګ نه وهل؟ حشراتو یې مالوچ نه خوړل؟

**کارګر:** هو، که موږ کار ونکړو، د کارخاني په منځ کي به ټول شیان خراب او خوسا شي.

**سوسیالیست:** نو تاسو د خپل کار سره، د خپل کار د تداوم لپاره په واقعیت کي د ماشین آلاتو او لازمه اومه موادو څخه ساتنه کوئ.

**کارګر:** هو، دا سمه خبره ده؛ ما هیڅکله هم د دې فکر نه و کړی.

**سوسیالیست:** آیا ارباب مو هغه څه ته چي په کارخاني کي یې تیریږي، پاملرنه کوي؟

**کارګر:** دومره نه؛ هغه د ورځې یو ځل په کارخاني باندې ګرځي، چي موږ د کار کولو په حال کي ووینې. خو د دې ویرې له امله چي ګنې لاسونه یې چټل نشي، ان هغه له خپلو جیبونو هم نه راباسي.

د ټوکر اوبدنې په کارخانې کې چې میرمن او لور مې کار کوي، اربابان، ره له دې چې څلور کسان دي، هیڅکله نه لیدل کیږي. د فلزاتو د ذوب په کارخانه کې چې زوي مې هلته کار کوي، اربابان نه یوازې چې هیڅکله نه لیدل کیږي، بلکې هیڅوک یې نه پیژني؛ ان سیورې یې په "محدود المسوولیت شرکت" کې، چې دکارخانې مالکیت لري، هم نه لیدل کیږي. فرضاً که زه او ته پنځه سوه فرانکه سپما ولرو، کولاې شو په کارخانې کې یوه ونډه واخلو او د کارخانې له اربابانو څخه شو، بې له دې چې هیڅکله خپله پښه هلته کیږدو.

**سوسیالیست:** نو بیا څوك په کارخانه کې، چې په دې ونډه والو اربابانو پورې تعلق لري، د اداري او څارنې کارونه مخې ته بیایي؟ او همدا شان ستاسو په کارخانه کې، چې یو ارباب لري، څوك دا کار په غاړه لري؟

**کارګر:** مدیران او سرکارګران.

**سوسیالیست:** که دا کارګران دي چې کارخانه یې جوړه کړې، ماشین آلات یې جوړ کړي او اومه مواد یې تولید کړي دي؛ که دا کارګران دي چې د ماشین د کار ادامه ممکنوي؛ او که دا مدیران او سرکارګران دي چې کارونه هدایت کوي، نو ارباب څه کار تر سره کوي؟

**کارګر:** هیڅ څه، پرته له دعا!

**سوسیالیست:** که سپوږمی ته د اورګاډي د پټلی لاره وي، موږ کولاې شول اربابان په هغې کې سپاره کړو او د بیا راستنیدنې ټکټ پرته هغوی هلته ولیږو. او په دغه حالت کې بیا هم، ستا د اوبدلو کار، ستا د میرمنې د ټوکر ګنډلو کار، او ستا د زوي د قالب جوړونې کار، سم د پخوا په شان، ادامه پیدا کوي.

آیا ته پوهیږې چې ستا ارباب په وروستي کال کې څومره ګټه په جیب وهلې؟

**کارګر:** زموږ په محاسبې، بنایي هغه سل زره فرانکه لاس ته راوړي وي.

**سوسیالیست:** په هر صورت، هغه څومره ښځینه، نارینه او کوچنې کارګران په خپلې کارخانې کې استخدام کړي دي؟

**کارګر:** سل کسه.

**سوسیالیست:** هغوی څومره مزد اخلي؟

**کارګر:** په منځنې ډول زر فرانکه، که د مدیرانو او سرکارګرانو معاش ورسره هم حساب کړو.

**سوسیالیست:** نو، سل تنه کارګران چې په کارخانې کې کار کوي، ټولټال سل زره فرانکه مزد اخلي؛ او بیا هم دوی په ناداری کې ژوند کوي؛ حال دا چې ارباب سل زره فرانکه بې له دې چې کوم کار وکړي په جیب وهي. څه فکر کوئ چې دا دوه سوه زره فرانکه به له کوم ځایه راغلي وي؟

**کارګر:** له آسمانه خو نه دي راغلي، ما خو تر اوسه پورې هیڅکله د "فرانک" باران نه دی لیدلی.

**سوسیالیست:** دا د همدې کارخانې کارګران دي چې نه یوازې یې د خپل مزد سل زره فرانکه جوړې کړي، بلکې سربیره پر دې، د ارباب سل زره فرانکه ګټه – چې یوه برخه یې د کارخانې د ماشین آلاتو لپاره کارولې ده – هم تولید کړې ده.

**کارګر:** له دې نه خو هیڅوك انکار نشي کولای.

**سوسیالیست:** نو بیا دا کارګران دي چې هغه پیسې یې تولید کړي چې ارباب یې د نویو ماشین آلاتو د پیریدنې لپاره مصرفوي. او دا مدیران او سرکارګران، ستاسو په شان مزدي بردګان دي، چې د تولید هدایت په لاس کې لري. نو په دې منځ کې د ارباب رول څه دی؟ هغه واقعاً څه په درد خوري؟

**کارګر:** یوازې د کارګرانو د زبیښاك لپاره.

**سوسیالیست:** ښه دا ده چې ووايي د کارګرانو د لوټولو لپاره. دا کلمه ډيره دقيقه او روښانه ده.

* دا مقاله د ۱۹۰۳ کال په سپتمبر کې په "سوسیالیست" نشريه کې خپره شوی ده.